بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دملکی خدمتونودکارکوونکو
# قانون

رسمي جريده ګڼه ( ۹۵۱)

نېټه ۱۳۸۷/٤/۱٦هـ .ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خواننده گرامی!**

افتخار داریم که بعد از نشر"مجموعه قوانین افغانستان" با شیوهٔ تنظیم موضوعی، اکنون به‌خاطر سهولت بیشتر در دسترسی شما به قوانین مورد نیاز، سلسلهٔ دیگری از قوانین نافذهٔ کشور را با قطع کوچک جیبی در اختیار شما قرار می دهیم.

**څارنپوه حبیب الله "غالب"**

**وزیر عدلیه**


**نام:** قانون کارکنان خدمات ملکی

**ناشر:** وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان

**تهیه و ترتیب:** ریاست نشرات

**مدیر پروژه:** قانونمل محمد رحیم"دقیق" سرپرست ریاست نشرات

**تدارکات و اداری:** سید محمد هاشمی رئیس امور مالی و اداری و احمد خالد عزیزی معاون واحد پروژه بانک جهانی در وزارت عدلیه

**طراح جلد وصفحه‌آرا:** امان الله صداقت(غیبی)، عباس رسولی وحسین امینی

**مصححین:** نورعلم خان، حلیم سروش، محمد رفیع عمری و احسان الله نیکزاد

**مشاورین:** اسماعیل حکیمی و محمد یما قاسمیار

**تاریخ نشر:** ۱۳۹۰

**تیراژ:** ۸۰۰۰

**چاپ:** اول (قطع جیبی)

**قیمت:** ۴۰ افغانی

**مطبعه:** **مطبعه طباعتی وصنعتی احمد**

**تلفن ریاست نشرات:** ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

**ویب سایت:** **www.moj.gov.af**


**کلیه حقوق چاپ برای وزارت عدلیه محفوظ است.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو فهرست

## دملکي خدمتونودکارکوونکو قانون

**لومړی فصل: عمومي حکمونه** ........................ ۱۳
مبنی........................................ ۱۳
موخې ........................................ ۱۳
اصطلاحګانې ........................................ ۱٤
دتطبیق ساحه........................................ ۱٥
لنډنوم........................................ ۱٥
دملکي خدمتونو بستونه ........................................ ۱٥
**دوه یم فصل: داستخدام شرایط**........................ ۱٦
د مامور د استخدام شرایط........................................ ۱٦
دبست د استخدام معیار........................................ ۱۸
دنوې ماموراستخدامیدل........................................ ۲۰
دکارکوونکو مقررې ........................................ ۲۱
نظارت ........................................ ۲۲
**درېیم فصل: دندې او مکلفیتونه** ........................ ۲۳
دندې........................................ ۲۳
مکلفیتونه........................................ ۲۳
مسئولیتونه ........................................ ۲٤
دمامور او قرار دادي کارکوونکي موقف ........................................ ۲٥
دمامورینو د اجراآتو ارزونه........................................ ۲٥
**څلورم فصل: حقوق او امتیازونه**........................ ۲۷
حقوق اوامتیازونه........................................ ۲۷
استعفاء........................................ ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوندیتوب........................................................ ۲۸
مزد ............................................................ ۲۸
اضافه کاري .................................................... ۲۹
رخصتی ......................................................... ۲۹
دبست ترلاسه کول اودقدم لوړتیا ....................... ۲۹
دبست په دننه کې دقدمونو د لوړتیا منظوري ............ ۳۰
دمامور مکافات ................................................ ۳۰
دقراردادي کارکوونکي مکافات............................ ۳۲
دمکافاتودرجول................................................ ۳۳
شکایت ......................................................... ۳۳
تقاعد .......................................................... ۳٤
**پنځم فصل: تأدیب** .......................................... ۳۵
تأدیبي موارد .................................................. ۳۵
**شپږم فصل: متفرقه حکمونه** ................................ ۳۶
دسوانحو دفتر................................................... ۳۶
د قانون دحکمونو تطبیق...................................... ۳۶
داداري اصـــلاحاتو اوملکـــي خـــدمتونو دخپلـــواک کمېـــسیون
دندې ........................................................... ۳۶
دشرایطواومعیارونو تائیدول ................................ ۳۷
انفاذ............................................................ ۳۷
**تعدیلات : منتشرۀ جریدۀ رسمي شماره (۹۵۱) مؤرخ ۱۳۸۸/۴/۱۶**
**۳۹** ..............................................................
**تعدیلات: منتشرۀ جریدۀ رسمي شماره (۹۹۲) مؤرخ ۱۳۸۸/۵/۲۶**
**۴۵** ..............................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست(دری)

## قانون کارکنان خدمات ملکی

**فصل اول: احکام عمومی** ........................................ ٦٠
مبنی................................................................. ٦٠
اهداف................................................................ ٦٠
اصطلاحات.......................................................... ٦١
ساحهٔ تطبیق ....................................................... ٦١
نام اختصاری....................................................... ٦٢
بست های خدمات ملکی ........................................ ٦٢
**فصل دوم: شرایط استخدام** ....................................... ٦٣
شرایط استخدام مامور .......................................... ٦٣
معیار استخدام بست ............................................. ٦٤
استخدام مامور جدید التقرر.................................... ٦٦
مقرری کارکنان ................................................... ٦٦
نظارت ................................................................ ٦٧
**فصل سوم: وظایف و مکلفیت ها** ................................. ٦٨
وظایف................................................................ ٦٨
مکلفیت ها .......................................................... ٦٨
مسئولیت ها ........................................................ ٦٩
موقف مامور وکارکن قراردادی.................................. ٦٩
ارزیابی اجراآت مامورین ........................................ ٧٠
**فصل چهارم: حقوق و امتیازات**................................... ٧١
حقوق وامتیازات .................................................. ٧١

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعفاء ........................................................ ۷۲
مصئونیت ...................................................... ۷۲
مزد ............................................................. ۷۲
اضافه کاری .................................................... ۷۳
رخصتی.......................................................... ۷۳
احراز بست و ارتقای قدم ..................................... ۷۳
منظوری ارتقای قدم در عین بست........................... ۷٤
مکافات مامور.................................................. ۷٤
مکافات کارکن قراردادی ..................................... ۷٦
درج مکافات.................................................... ۷۷
شکایت ......................................................... ۷۷
تقاعد .......................................................... ۷۸
**فصل پنجم: تأدیب** .......................................... ۷۸
موارد تأدیبی.................................................... ۷۸
**فصل ششم: احکام متفرقه**.................................. ۷۹
دفتر سوانح..................................................... ۷۹
تطبیق احکام قانون............................................. ۷۹
وظایف کمیسیون مستقل اصلاحات اداری وخدمات ملکی .. ۷۹
تائید شرایط و معیار ها ........................................ ۸۰
انفاذ............................................................ ۸۰
**تعدیلات: منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۹۵۱) مؤرخ ۱۳۸۸/۴/۱۶**
........................................................................ **۹۵**
**تعدیلات: منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۹۹۲) مؤرخ ۱۳۸۸/۵/۲۶**
........................................................................ ۱۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دملکي خدمتونود کارکوونکودقانون د انفاذ
## په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس
## فرمان

**گڼه : (۳۲)**

**نېټه :۱۳۸۷/۳/۲۶**

**لومړۍ ماده :**

دافغانستان داساسي قانون دڅلورشپېتمې مادې د (۱۶)فقرې او سلمې مادې دحکم له مخې دملکي خدمتونو دکارکوونکو قانون چې دملي محترمې شورې د گډ هيئت د۱۳۸۷/۳/۱۴ نېټې د(۹۰) گڼې فيصلې پربنسټ، په (۶) فصلونو او (۳۵) مادوکې تصويب شوی دی، توشيح کوم.

**دوه يمه ماده :**

د ملکي خدمتونو دکار کوونکو تشکيلاتي بستونه،دملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون دشپږمې مادې په (۱ او ۲) فقره او اتمه ماده کې ددرج شوو حکمونوپه رعايتولو سره د اداري او ملکي خدمتونو د اصلاحاتو د خپلواک کمېسيوند واکمن استازي په گډون د وزارتونو او اړوندو ادارو لخوابيا ليدل کېږي، تثبيتېږي او تعديلېږي.

**دريمه ماده :**

(۱) هغه کارکوونکي چې مخکې د سيالۍ پربنسټ د ملکي خدمتونو په بستونو کې شامل شويدي ، په هغه صورت کې چې بستونه يې، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون په اتمه ماده کې ددرج شوو بستونو له وظيفوي معيارونو سره مطابقت ولري، له سيالۍ پرته، د نومړو بستونو لومړی قدم ترلاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي کارکوونکي، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون په اتمه ماده کې د درج شوو بستونو وظیفوی معیارونه بشپړ نکړی شي، بستونه یې د سیالۍ پر بنسټ بیا اعلانېږي .

(۳) د دې مادې په (۱ او ۲) فقره کې درج شوي کارکوونکي، د دې فرمان په پنځمه ماده کې د درج شوي حکم تر تطبیق پورې، له اضافي مؤقت معاش څخه برخمن کیږي.

**څلورمه ماده :**

د ملکي خدمتونو هغه کارکوونکي چې تر اوسه پورې د اداري اصلاحاتو په پروګرام کې شامل شوي ندي، د۱۳۸۵ کال په (۹۱۴) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د کار قانون او د ۱۴۲۰هـ.ق کال په(۷۹۰) ګڼه رسمي جریده کې خپورشوي د دولت د مامورینو په قانون کې درج شوي حکمونه، د هغوی په هکله دپخواپه شان د تطبیق وړدي.

**پنځمه ماده :**

(۱) په وزارتونو اوخپلواکو دولتي اداروکې دملکي خدمتونو د کارکوونکو دقانون په حکمونوکې درج شوی درتبواومعاشونوتعدیل اوتنظیم دې دڅلورو کلونو مودې په ترڅ کې په پړاویزه توګه، تطبیق شي.

(۲)د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون مؤظف دی چې درتبواو معاشونو دنوي سیستم دتطبیق په پروسه کې دوزارتونو او ادارودلومړیتوب دحق تاکل دقانون دحاکمیت، د امنیت دتأمینېدو، داقتصادي ودې او دغریبۍ (فقر) د راکمولو، د بشري ظرفیت لوړولو، دحیاتي عامه خدمتونو دوراندې کولو، د اصلاحاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپروسې او د فساد دمحو کولو پروسې ته دژمنتوب له په پام کې نيولوسره، دجلا کړنلارې مطابق تنظيم اوعملي کړي

**شپږمه ماده :**

دغه فرمان د توشيح له نېټې څخه نافذ او دملي شوري له پريکړې سره يوځای دې په رسمي جريده کې خپور شي.

**حامد کرزی**
**د افغانستان د اسلامي**
**جمهوريت رئيس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دافغانستان ملي شوري**
**ولسي جرګه**
**دملکي خدمتونو دکارکوونکو دقانون په اړه دملي شوري مصوبه**

**ګڼه : (۹۰)**
**نېټه :۱۳۸۷/۳/۱۴**

داساسي قانون دسلمې مادې د حکم سره سم، دملي شوري ګډ هیئت (هره جرګه د پنځو- پنځو غړو ځخه جوړ) دملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون دطرحې د ۱۳۸۷ لمریزکال د غبرګولي د میاشتي په ۱۴ مه نېټه په (۶) فصلونو او (۳۵) مادوکې تصویب کړ.

**مولوي عطاالله "لودین"**
**دګډ هیئت رئیس**

**نجیبه حسینی**
**دګډ هیئت مرستیاله**
**دمشرانو جرګې غړې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دملکي خدمتونودکارکوونکو
# قانون

## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**مبنی**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان داساسي قانون دپنځوسمې مادې د (۴) فقرې دحکم پربنسټ دملکي خدمتونو په اداروکې داهلیت لرونکواشخاصو د استخدام اوله اداري سره دهغو دمناسباتو دتنظیم په منظور وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

د دې قانون موخې عبارت دي له :

۱- دښوخدمتونو د وړاندې کولوپه غرض د هېواد د دولتي اداروپه سیستم کې د اصلاحاتو پلي کول.

۲- له توپیر پرته داهلیت او وړتیا پر بنسټ دکارکوونکواستخدامول په روڼ (شفاف) ډول دآزادې سیالۍ له لارې.

۳- دملکي خدمتونو دکار کوونکو دحقوقواو مکلفیتونو او ذاتي چاروتنظیمول.

۴- په دولتي اداروکې دمهارتونو پر مختیا او دملکي خدمتونود مجربو مامورینو ساتل او دمسلکي اوماهرو کاندیدانو استخدامول.

۵- خلکوته داغیزمنوخدمتونو د وړاندې کولوپه منظور دروغې (سالمې)، مسلکي‌حساب ورکوونکې، بې پلوه اوله فساداوسیاسي لاسوهنې څخه دخلاصې اداري جوړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اصطلاحګاني

**درېيمه ماده:**

پدې قانون کې لاندې اصطلاحګانې دغه معناوې افاده کوي:

۱- ملکي خدمتونه : د دولت اجرائيوي اواداري فعاليتونه دي چې دملکي خدمتونودکارکوونکو په واسطه وړاندې کېږي.

۲- دملکي خدمتونو کارکوونکي: دملکي خدمتونو مامور او قراردادي کارکوونکي پکې شامل دي.

۳- دملکي خدمتونو مامور: هغه شخص دی چې د دې قانون د حکمونو له په پام کې نيولو سره په دايمي توګه دخدمتونو د وړاندې کولو په منظور، په دولتي اداره کې استخدامېږي.

۴- دملکي خدمتونوقراردادي کارکوونکي: حرفوي اوخدماتي کارکوونکي پکې شامل دي چې ددې قانون له په پام کې نيولوسره د خدمتونو دوړاندې کولوپه منظور په دولتي اداره کې استخداميږي.

۵- بست: دتشکيل يوه برخه ده چې د هغه پربنسټ دملکي خدمتونو کارکوونکي ورسپارل شوې دنده سرته رسوي.

۶-قدم: دبست جزء دی چې پرموجب يې دملکي خدمتونو کارکوونکي د کلنيو اجراآتو له برياليې ارزونې وروسته، په عين بست کې لوړقدم (مزد) ته لوړتيا مومي.

۷- ددندولايحه: داداري رسمي سند دی چې په هغه کې د بست موخې ، دندې ، مسئوليتونه او غوښتنې مشخصيږي .

۸- دکارپلان: دملکي خدمتونو دکارکوونکو دفعاليتونو برنامه جوړونه ده چې ددندې دلايحې پربنسټ د متوقعه لاس ته راوړنو دحصول لپاره تنظيمېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دتطبیق ساحه**

**څلورمه ماده :**

ددغه قانون حکمونه دوزارتونو،دلوی څارنوالۍ د اداري ،عمومي خپلواکو ریاستونو، خپلواکو کمېسیونونو، دولتی تصدیو، دملي شوري دمجلسینو د چارو د ادارو او قضائیه قوې د عمومي آمریت دملکي خدمتونو پر کارکوونکو باندې دتطبیق وړ دی.

د وزارتونو او عمومي خپلواکو ریاستونو نظامي منسوبین، قضات او استادان لدې حکم څخه مستثنی دي.*

**لنډنوم**

**پنځمه ماده:**

په دې قانون کې له دی نه وروسته د ملکي خدمتونو مامور، د مامور په نوم او دملکي خدمتونو قرار دادي کارکوونکي، دقراردادي کارکوونکي په نوم یادېږي.

**دملکي خدمتونو بستونه**

**شپږمه ماده:**

(۱) ملکي خدمتونه اته بستونه او هربست پنځه قدمه لري.

(۲) دمامورینو او قراردادي کارکوونکي بستونه او قدمونه او دمزد اندازه ددې قانون د (۱) ګڼې ضمیمې جدول سره سم تنظیمېږي.

دملکي خدمتونودمامورینواو کارکوونکو د بستونو او قدمونود مزد اندازه ددي قانون د (۲۰) مادې د (۴) فقري سره سم ټاکل کیږي .

---

* دڅلورمې مادې وروستی پاراګراف تعدیل شوی، د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) دپوهنې وزارت دښونځيو ، مدرسو دښوونکي دروزنې دمؤسسو، تخنيکي ـ مسلکي او حياتی سواد دښوونکو، استادانو او مدرسينو اود ښوونيز نصاب او ساينس دمرکز دادارو دمسلکي غړو اودښوونيز نظارت دغړو (سوپروايزرانو) بستونه اوقدمونه د تحصيلي سند له په پام کې نيولو سره ددې قانون د(۲) ګڼې ضميمې مطابق تنظيمېږي.

## دوه يم فصل
## داستخدام شرايط

**د مامور د استخدام شرايط**

**اوومه ماده:**

(۱) هغه شخص د ملکي خدمتونو په ادارو کې دمامور په توګه منل کېږي چې لاندې شرايط ولري:

۱- دافغانستان تابعيت ولري.

۲- عمر ئې له اتلس کلنۍ څخه لږ اوله څلورشپېتوکلوڅخه زيات نه وي.

۳- دعامې روغتيا وزارت له واکمنو مراجعو څخه روغتيايي تصديق ولري.

۴- دهېواد له دننه يا بهرله رسمي ښوونيزو مؤسسوڅخه د بکلوريا يا د هغه څخه لوړ د فراغت سندولري.

۵- د واکمنې محکمې په قطعي اونهائي حکم د جنايت پرجرم باندې نه وی محکوم شوی .

(۲) دلوړو زده کړودعلمي مؤسسو، دعلومو داکاډمۍ، لوېڅارنوالۍ او دعدليې وزارت دقانون جوړونې او علمي حقوقي څېړنو دچارو د انستيتوت دعلمي کادر غړي او د پوهنې وزارت مسلکي غړي، ددې مادې د(۱) فقرې په (۱، ۲، ۳ او ۵) جزء کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردرج شوو شرايطو برسېره، دخپلو اړوندو تقنيني سندونو تابع هم دي. *

(۳) هغه مامورين چې ددوولسم ټولګي څخه د ټيټوتحصيلاتولرونکي دي اود ملکي خدمتونو دکارکوونکو دقانون له انفاذ دمخه په وزارتونو او دولتي اداروکې مقرر شويدي ، په هغه صورت کې چې دملکي خدمتونو د کارکوونکو دقانون په اتمه ماده کې د درج شوو بستونو معيارونه يې بشپړکړي وي د اداري اصلاحاتود برنامې د تطبيق په ترڅ کې ،کولی شي دتحصيل ددرجې له په پام کې نيولو پرته دملکي خدمتونو بستونه دسيالۍ پر بنسټ ترلاسه کړي.

(۴) هغه شخص د ملکي خدمتونو په ادارو کې دقراردادي کارکوونکي په توګه استخداميږي چې د دې مادې د(۱) فقرې په (۱، ۲، ۳ او۵) جزء کې درج شوي شرايط ولري. *

د قراردادي کارکوونکو شغلونه په اړوند تقنيني سندکې تنظيميږي.

(۵) شخص په هغه دنده چې مستقيم آمريې له لومړۍ درجې خپلوانو څخه وي،نشي مقرريدی. دلومړۍ درجې خپلوان پدې منظور، له پلار، مور ، اولاد ، زوج، زوجه، ورور او خورڅخه عبارت دي.

---

* د اوومې مادې (۲ او ۳) فقره تعديل شوې دي، د تعديلاتو برخې ته دې مراجعه وشی.

* په اوومه ماده کې (۴) فقره ايزاد شوې ده او دذدکر شوې مادې (۴ او ۵) فقرې په (۵ او ۶) فقرو تصحيح شوې دي، د تعديلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دبست د استخدام معیار**

**اتمه ماده:**

(۱) هغه شخص دملکي خدمتونو په لومړي بست(عمومي ریاست) کې استخدامیږي چې د دې قانون داوومې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوو شرایطو برسېره، د لاندې معیارونو لرونکی هم وي:

۱- لېترلږه دلېسانس دتحصیلي سند لرل.

۲- په دندې پورې د اړوندې لږترلږه څلورکلنې کاري تجربې لرل.

۳- د اړوندې ادارې دخط اومشې (پالیسی) دطرحه کولو اوتاکلو وړتیا.

۴- د ادارې د رهبرۍ او کنترول ، وس.

۵- د اهلیت او وړتیا لرل.

۶- دښه سیرت اونېک شهرت لرل.

(۲) هغه شخص دملکي خدمتونو په دوه یم بست (ریاست) کې استخدامیږي چې د دې قانون داوومې مادې په (۱)فقره کې پر درج شوو شرایطو برسېره، د لاندې معیارونو لرونکی هم وي :

۱- لږترلږه دلېسانس دتحصیلي سند لرل.

۲- په دندې پورې د اړوندې لږترلږه درې کلنې کاري تجربې لرل.

۳- د اړوندې ادارې دخط او مشې (پالیسی) په طرحه کولو کې د سلا ورکولو وړتیا.

۴- د ادارې د رهبرۍ اوکنترول وس.

۵- داهلیت او وړتیا لرل.

۶-دښه سیرت اونېک شهرت لرل.

(۳) هغه شخص دملکي خدمتونو په درېیم بست (آمریت ) کې استخدامیږي چې د دې قانون د اوومې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوو شرایطو برسېره، دلاندې معیارونو لرونکی هم وي:

۱- لږترلږه له بکلوریاڅخه دلوړ تحصیلي سند لرل.

۲- په دندې پورې د اړوندې دوه کلنې کاري تجربې لرل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د اړوندې اداري دخط او مشې (پالیسۍ) دتطبیق وړتیا.
۴-د اړوندې اداري د لارښوونې او کنترول وس.
۵- د اهلیت او وړتیا لرل.
۶- دښه سیرت اونېک شهرت لرل.
(۴) هغه شخص دملکي خدمتونو په څلورم بست(عمومي مدیریت) کې استخدامیږي چې ددې قانون داوومې مادې په (۱) فقره کې پردرج شوو شرایطو برسېره، دلاندې معیارونو لرونکی هم وي:
۱- لږترلږه له بکلوریاڅخه دلوړ تحصیلي سند لرل.*
۲- په دندې پورې د اړوندې یوې کلنې کاري تجربې لرل.
د دوکتورا او ماسترۍ د سند لرونکی لدی حکم څخه مستثنی دی.
۳- د اړوندې اداري دخط او مشې (پالیسۍ) دتطبیق وړتیا.
۴- د اهلیت او وړتیا لرل.
۵- دښه سیرت اونېک شهرت لرل.
(۵) هغه شخص د ملکي خدمتونو په پنځم بست(مدیریت) کې استخدامیږي چې د دې قانون داوومې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوو شرایطو برسېره ، دلاندې معیارونو لرونکی هم وي:
۱- د اهلیت او وړتیا لرل.
۲- د ښه سیرت او نېک شهرت لرل.
(۶) هغه شخص دملکي خدمتونو په شپږم بست (ماموریت) کې استخدامیږي چې د دې قانون د اوومې مادې په (۱) فقره کې ددرج شوو شرایطو لرونکی وي .

---

* داتمې مادې د(۴) فقرې (۱) جزء حذف شوی دی، د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۷) هغه شخص دملکي خدمتونوپه اووم بست کې استخداميږي چې ددې قانون داوومې مادې په (۴) فقره کې ددرج شوو شرايطوبرسيره دلاندې معيارونو لرونکی هم وي:
۱- دفني اوحرفوي زده کړوله مرکزونو څخه دفراغت دسند ياد مهارت اوکاري تجربې لرل .
۲- داړوند فن يا حرفې مطابق ددندو دترسره کولو وړتيا .
(۸) هغه شخص دملکي خدمتونو په اتم بست کې استخداميږي چې ددې قانون داوومې مادې په (۴) فقره کې ددرج شوو شرايطولرونکی وي .

**دنوي ماموراستخداميدل**

**نهمه ماده :**

(۱)په دې قانون کې ددرج شويو شرايطو لرونکي دبکلوريا دسند لرونکی شخص د ملکي خدمتونو د ادارو دشپږم بست په لومړي قدم او مافوق بکلوريائې په دوه يم قدم ، لېسانس دپنځم بست په لومړي قدم ، ماستړد څلورم بست په لومړي قدم او دوکتورا ئې په دوه يم قدم کې مقررېږي.
(۲) دلېسانس سند لرونکی شخص دلوړوزده کړو وزارت د لوړو تحصيلي مؤسسو دڅلورم بست په دوه يم قدم، ماستر دڅلورم بست په دريېم قدم اودوکتورا ددريېم بست په دريېم قدم کې مقررېږي .*

* دنهمې مادې (۲) فقره حذف شوې ده، دتعديلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دکارکوونکو مقرري**

**لسمه ماده :**

(۱) پدې قانون کې ددرج شوو شرایطو لرونکی شخص دتش (خالی) بست دموجودیت په صورت کې داهلیت اومسلکي مهارت (تحصیل، تجربې اونوروو‌ظیفوي مواصفاتو) پربنسټ ددې قانون داتمې مادې د (۱ څخه تر۶) فقرو دبستونو په لومړي قدم کې دآزادې سیالی له لارې تشخیص او قراردادي کارکوونکي دنومورې مادې د (۷ او ۸) فقرود درج شوو بستونوپه لومړي قدم کې انتخاب او مقررېږي.

(۲) د مامور او قرار دادي کارکوونکي په استخدام کې د جنسیت، قومیت، مذهب او جسماني معلولیت پر بنسټ هیڅ ډول تبعیض مجاز ندی.*

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي مامور دتقرر منظوري د لاندې مقاماتو په واسطه صورت مومي:

۱- دلومړي اودوه یم بست مامورین د ملکي خدمتونو دټاکنو دبورد او د اړوندې ادارې د واکمن استازي په ټاکنه، دملکي خدمتونو او اداري اصلاحاتو دخپلواك کمیسیون درئیس په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظوری.

۲- دمرکز اوولایتونو ددریم، څلورم او پنځم بست مامورین او د مرکز دشپږم بست مامورین، د وزارتونو او خپلواکو دولتی ادارو د ټاکنو دکمیټې په تشخیص اووړاندیز دوزیر یا د دولتي خپلواکې اداري د عمومي رئیس په منظوری.

۳-په ولایت کې دشپږم بست مامورین د ولایتي ټاکنو دکمیټې په تشخیص او وړاندیز او د اړوند ولایت د والي په منظوری .

---

* دلسمې مادې (۲) فقره تعدیل شوې ده، دتعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- په مرکز کې داوومو او اتمو بستونو دقراردادی کارکوونکو مقرري دوزارتونو او عمومي خپلواکو دولتی ادارو دټاکنو د کمیټې په تشخیص او ټاکنه اودوزیر یا د خپلواکې ادارې دعمومی رئیس په منظورۍ او په ولایتونواو ولسوالیو کې دولایتي یا ولسوالۍ دټاکنو دکمیټې په تشخیص او وړاندیز او داړوند والي یا ولسوال په منظورۍ.

**نظارت**

**یوولسمه ماده:**

(۱) د دې قانون دلسمې مادې د(۳) فقرې په (۱) جزء کې درج د تشخیص ټاکنې اووړاندیز له پړاوونو څخه څارنه ، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو دخپلواک کمېسیون د رئیس لخوا صورت مومي.
(۲) د دې قانون د لسمې مادې د (۳) فقرې په (۲ او۳) جز کې د تشخیص اووړاندیزله پړاوونوڅخه څارنه په مرکز کې دملکي خدمتونو دټاکنو دبورد د واکمن استازي او په ولایتونو او ولسوالیو کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو دخپلواک کمېسیون ساحوي دفتر د استازي په واسطه صورت مومي.
(۳) دماموری‌نو اوقرار دادي کارکوونکو دتشخیص ،ټاکنې او وړاندیزله پړاوونوڅخه دڅارنې ډول، دځانګړي کړنلارې مطابق تنظیمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درېيم فصل
## دندې او مکلفيتونه

### دندې
**دوولسمه ماده:**

ماموراوقراردادي کارکوونکی ورسپارل شوې دندې د دندو دلايحې او دکار د پلان مطابق او د اړوندو قوانينو اومقررو د حکمونوپربنسټ سرته رسوي.

### مکلفيتونه
**ديارلسمه ماده:**

مامور او قراردادي کار کوونکي د دندو په اجراء کې لاندې مکلفيتونه لري:

۱- په سپارل شوو دندو کې دناپلوۍ د اصل په پام کې نيول.
۲- د اداري مراتبو دلړۍ په پام کې نيول او له آمرڅخه اطاعت کول .
۳- د قانون دحکمونو مطابق، د وظيفوي اسرارو ساتل.
۴- داداري د وقار اوحيثيت ساتل.
۵- له همکارانو او مراجعينوسره نېک چلند .
۶- په اړونده اداره کې دعامه شتمنۍ ساتنه او خوندي کول.
۷- داداري اړوندو چارودکارلـه وسايلو اوتجهيزاتو څخه معقوله استفاده.
۸- دځان يابل شخص په ګټه په هغو مزايدو، مناقصو اوليلام کې چې اجراء ته يې مؤظف دی، ګډون او لاسوهنه نه کول .
۹- له هرډول هغه عمل څخه چې د اداري په چاروکې دځنډ د راتلو موجب شي، ډډه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰- دځان یا نورو په ګټه د اداري له امکاناتو او معلوماتوڅخه ناوړه ګټه نه اخیستل .
۱۱- په ور سپارل شوې دنده کې له لټې او بې پروائې څخه ډډه کول.
۱۲- دمسلکي مهارتونو د ودې اوپر مختیا په منظورد روزنیزو پروګرامونو تعقیبول چې د اداري لخوا تنظیمېږي.
۱۳- دشخصي چارو لپاره له رسمي واکونو څخه ګټه نه اخیستل.
۱۴- په شخصي چارو کې له رسمي ساعتونو څخه ګټه نه اخیستل.
۱۵- له نورو هغو عملونو څخه ډډه کول چې اداره زیانمنه کړي.
۱۶- درشوت، اختلاس او اداري فساد ته نور ، ورته جرمونو له ارتکاب څخه ډډه کول.

**مسئولیتونه**

**څوارلسمه ماده :**

(۱) مامور او قرار دادي کارکوونکي له هغې دندې یا واک څخه چې دقانون مطابق ورته سپارل کېږي یا لېږدېږي مسئولیت لري.
(۲) که چېرې ماموریا قراردادي کارکوونکي دآمرامر دقانون یا مقرراتو خلاف تشخیص کړي، مکلف دی موضوع په لیکلي ډول د آمرخبرتیاته ورسوي . په هغهٔ صورت کې چې آمر له خبرتیا وروسته، د خپل امر پراجراء باندې په لیکلي توګه تاکید وکړي، مامور یا قراردادي کارکوونکي دهغې په اجراءکولو مکلف نه دي.*

---

* دڅولوارلسمې مادې (۲) فقره تعدیل شوې ده، د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دمامور او قرار دادي کارکوونکي موقف**

**پنځلسمه ماده:**

(۱) مامور اوقراردادي کار کوونکي دخدمت د مودي په بهیرکې په لاندې یوهٔ موقعیت کې ځای نیسي:

۱- اصلي موقف.

۲- خدمتي موقف.

۳- تحصیلی موقف (دمامورلپاره).

۴- دعسکري خدمت موقف.

۵- د مؤقت انفصال موقف.

(۲ (ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو موقفونوشرایط او حالات، دملکي خدمتونو د کارکوونکو د ذاتی چارو په مقرره کې تنظیمېږي.

**دمامورینو د اجراآتو ارزونه**

**شپاړسمه ماده:**

(۱) مامور د دندو دلایحې، دکار دپلان، او دکلنیو اجراآتو د رپوټ پربنسټ تر ارزونې لاندې نیول کېږي.

(۲) که چېرې ماموردکلنیو اجراآتو دارزونې په پایله کې ټاکلی معیارونه بشپړکړي، دبست په دننه کې پورته قدم (مزد) ته ارتقاء مومي.

(۳) که چېرې مامور دکلنیو اجراآتو د ارزونې په پایله کې ټاکلي معیارونه بشپړنکړی شي، پدې هکله له احوالو سره سم لاندې اجراآت صورت مومي:

۱- د لازمو مهارتونو دلاسته راوړو لپاره، دظرفیت د لوړېدو پروګرامونو ته معرفي کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- په پخوانی بست کې دمزد او ارتقاء پرته کارته دوام.*

(۴) دهغه ماموربست چې لغو، تعدیل یا اعلان ته سپارل کېږی، له مزد سره دانتظارپه حالت کې راځي.اداره کولی شي چې له مزد سره دانتظار په حالت کې منتظر مامور، دکار دقانون د دوه اویایمې مادې دحکمونوسره سم په نورو دندو توظیف کړي.

(۵) دمامور دکلنیو اجراآتو د ارزونې فورم د دې قانون(۳) ګڼه ضمیمه دی.

(۶) هغه مامور چې د ارزونې په پایلې باندې قناعت ونلري، کولی شي واکمنو مراجعوته شکایت وکړي.

(۷) د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون کولی شي، د موجهو دلایلو دشتون په صورت کې، ددې مادې په (۵) فقره کې درج شوې دکلنیو اجراآتو د ارزونې دفورمې دتعدیل طرح،دتصویب لپاره د وزیرانو شوري ته وړاندې کړي.

د ارزونې فورمه ، د وزیرانو دشوري له تصویب وروسته ، داعتبار وړ ده.

(۸) قراردادي کارکوونکي ددندې د لایحې، دکارپلان اوکلني راپورد اجراآتو پربنسټ ترارزونې نیول کیږي. دکارکوونکي ارزونه دهغه فورم مطابق چې داداري اصلاحاتواو ملکي خدمتونو دخپلواک کمېسیون لخوا جوړیږي، صورت مومي.

---

* دشپاړسمې مادې د دریمې فقرې (۲) جزء تعدیل شوی دی، د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځلورم فصل
## حقوق او امتیازونه

**حقوق اوامتیازونه**

**اوولسمه ماده:**

مـاموراوقراردادي کـارکوونکي د لانـدې حقوقـو اوامتیـازونولرونکي دي:

۱- ددې قانون دحکمونو مطابق د ماموریت ددایمی قرارداد عقدول.

۲- داړوند بست د دندې دلایحې ترلاسه کول.

۳- د کاردقـانون دحکمونومطـابق او داړونـدې اداري دبـودجې پـه تناسب له اجزاوواو ضمیمو سره د مزد ترلاسه کول.

۴- دبست ترلاسه کول اودقدم (مزد) لوړتیا.

۵-د رخصتۍ له حق څخه ګټه اخیستل.

۶- دتقاعددحقوقوترلاسه کول.

۷-دکارپـه قـانون کـې درج (لـه ۱۱۳څخـه تـر۱۱۷او۱۱۹) پـورې مادوکې دسوکالۍ اوروغتیا د تأمینیدو حق .

۸- دکارپـه ځـای کـې دآمرینـواو همکارانولخوادجنـسیت،قومیت، ټولنیز، مذهبي ،سیاسي اومدني حالت پربنسټ دهرډول تبعیض څخه دمصؤنیت دنه لرلودشکایت حق.

۹- دخدمت په دننه کې دروزنې حق.

۱۰- دکاردقـانون د(۱۳۴څخـه تـر۱۴۴) مادوکـــې درج دټولنیـــزو تأميناتو حق .

**استعفاء**

**اته لسمه ماده:**

(۱) مامور کولی شي له دندې څخه استعفي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د استعفي شرایط، د غوښتنلیک ډول اجراء او رفع ئی د اړوند تقنیني سند مطابق تنظیمیږي.

**خوندیتوب**

**نولسمه ماده:**

ماموراوقراردادي کارکوونکي د دندې د اجراء په وخت کې لاندې مصئونیتونه لري:

۱- له قانوني مجوز پرته، دکار له حقوقو څخه نه بی برخې کیدل.

۲- د انساني کرامت ساتل، له جسمي، اخلاقي او رواني زورونې څخه دخوندیتوب تأمینېدل.

۳- دکار دمناسب اوخوندي چاپېریال تأمینېدل.

(۲)ددې مادې په (۱)فقره کې درج شویو خوندیتوبونو شرایط اود ګټې اخیستنې ډول داړوند تقنینی سند په واسطه تنظیمیږي.

**مزد**

**شلمه ماده:**

(۱) ماموراوقراردادي کارکوونکي د مقرری دمنظوری له نېټې څخه له اجزاوو اوضمیموسره دمزد مستحق ګڼل کېږي.

(۲) له علمي اوفني کادر څخه را پیدا مادي امتیاز، دمامور د مزد جزء ګڼل کېږي، اندازه او د ورکړې ډول یې دجلاتقنیني سند په واسطه تنظیمیږي.

(۳) د مامور د بستونو او قدمونو دمزد اندازه، ددې قانون د(۱) ګڼې ضمیمې مطابق ټاکل کېږي.

(۴) حکومت ددې مادې په (۳) فقره کې د درج شوي مزد د اندازې په ټاکلو کې، د دولت د اقتصادي ودې او مالي توان له په پام کې نیولو سره، دمامورینواو قراردادي کارکوونکو د ژوند دسطحې په لوړېدو او دمعیشت په تأمینولو کې عندالموقع نوې کتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اضافه کاري**

**یو ویشتمه ماده:**

هغه کار چې دعادي کار له وخت څخه بهر صورت مومي، اضافه کاري ګڼل کېږي. د ماموراوقرار دادي کارکوونکي داضافه کارۍ مزد دهغه دبست میاشتني مزدپر بنسټ محاسبه کیږي. داضافه کارۍ دضرورت حالات، دکار د قانون داته دېرشمې مادې دحکم مطابق تنظیمېږي.

**رخصتۍ**

**دوه ویشتمه ماده:**

ماموراوقراردادي کارکوونکي د کار د قانون له (۳۹څخه تر۵۸) مادوکې درج له مزد سره د رخصتیو مستحق دی.

**دبست ترلاسه کول اودقدم لوړتیا**

**درویشتمه ماده:**

(۱) مامورکولی شي، ددې قانون د حکمونو مطابق، دسیالۍ پربنسټ، لوړبست ترلاسه کړي.

(۲) مامورنشي کولی په ورته دنده کې لوړ بست له یوکال څخه په لږه موده کې اوپه نا ورته (غیر مشابه) دندو کې له دوو کلونو څخه په لږه موده کې ترلاسه کړي .

د ورته او نه ورته دندو څرنګوالی، د دندو د لایحې پربنسټ د اړوندي اداري په واسطه تنظیمېږي.

(۳) په عین بست کې لوړ قدم ته د مامورلوړتیا ، دکلنیو اجراآتود ارزونې دفورمې پربنسټ صورت مومي.

(۴) قراردادي کارکوونکي، لوړ بست ته ارتقاء نشي کولی. په عین بست کې لوړ قدم ته ارتقاء دکلنیو اجراآتو د ارزونې دفورمې پربنسټ صورت مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دبست په دننه کې دقدمونو د لوړتیا منظوري**

**څلیرویشتمه ماده:**

له لومړي څخه تراتم پوري دبست دننه قدمونو د لوړتیا منظوري په مرکزکې د وزیر او دخپلواکې اداري دعمومي رئیس واک، په ولایتونو کې دشپږم، اووم او اتم بست د قدمونولوړتیا د والي واک او په ولسوالیو کې د اووم او اتم بست د قدمونو لوړتیا د اړوند ولسوال واک دی.

**دمامور مکافات**

**پنځه ویشتمه ماده:**

(۱) هغه مامور چې دکارنظم او انضباط اودملکی خدمتونو دمامورینو دسلوک د ډول دمقررې حکمونه په ښه توګه په پام کې ونیسي او سپارل شوې دنده د دندو په لایحه او دکار په اړوندپلان کې له درج شوو معیارونو څخه پورته اجراء کړي، داداري دمالي امکاناتو (کلنۍ بودجی) له په پام کې نیولو سره په لاندې توګه هڅول کیږي:

۱- نغدي مکافات.

۲- ستاین لیک.

۳- دریمه درجه تقدیر لیک.

۴- دوه یمه درجه تقدیر لیک.

۵- لومړۍ درجه تقدیر لیک.

۶- دنشان، مډال یالقب ورکول داړوند قانون دحکمونومطابق.

(۲) نغدي مکافات چې له اجزاوو او ضمیموسره یې لس ورځنی اصلي مزد لرونکی دی، د اړوند آمر په وړاندیزاو د وزیریا لومړۍ درجې اعطاء آمر یا راساً د نوموړو مقاماتولخوا ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) ستاینلیکونه چې لـه اجزاوو اوضـمیمو سره یې دپـنځلس ورځنی اصلـي مزد دی، د اړوند آمر پـه وړاندیز او د وزیر یا لـومړۍ درجې اعطاء آمر یا راساً د نوموړو مقاماتو لخوا ورکول کېږي.

(۴) مامور دلاندي شرایطو دبشپړېدو په صورت کې د درېیمې درجې تقدیرلیك په اخیستلو بریالی کېږي:

۱- ددې مادې په (۱) فقرې کې ددرج شویو شرایطو بشپړول.

۲- په کارکې نوښت اونویتوب.

۳- اداري ته له اصلي دندې څخه دبهر مثبت کار سرته رسول.

درېیمه درجه تقدیرلیك چې لـه اجزاء اوضمایموسره ئی دشل ورځني مزد لرونکی ده د اړوند آمرپه وړاندیزاو دوزیریا لومړۍ درجې اعطاء آمرلخوا یا راساً د نوموړو مقاماتو لخوا ورکول کېږي.

(۵) مـاموردلانـدې شـرایطو پـه بـشپړېدو سـره، د دوه یمـې درجـې تقدیرلیك په اخیستلو بریالی کېږي:

۱- د دې مادې په (۴) فقره کې د درج شوو شرایطو بشپړول.

۲- د جوړوونکو طرحواو وړاندیزونو وړاندې کول چې اغېزناکو پایلو تـه رسېدلي وي.

دوه یمه درجه تقدیر لیك چې لـه اجزاوو او ضمیموسره یې دپنځه ویشت ورځني مزد لرونکی ده، دوزیر یا لـومړي درجه اعطاءآمر پـه وړاندیز او دجمهـور رئیس پـه منظورۍ یـا راسـاً دجمهـور رئـیس لـه خواورکول کیږي.

(۶) مـامور د لانـدې شـرایطو پــه بـشپړېدو سـره دلـومړۍ درجـې تقدیرلیك په اخیستلو بریالی کېږي:

۱- د دې مادې په (۵) فقره کې د درج شوو شرایطو بشپړول.

۲- په کارکې دسازمان ورکولو، سمون اوهم غږۍ دتوان لرل.

۳- دکار پـه ساحه کې د دولـت د خط او مـشې (پالیـسی) اغېـزمن او دقیق تطبیقول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـومړۍ درجـه تقـدیرلیك چـې، لـه اجـزاوو اوضمیموسـره یـې دیـوې میاشتې اصلي مزد لرونکی ده د وزیریالومړي درجه اعطاء آمر په وړانـدیز دجمهـوررئیس پـه منظـورۍ یـا راساً دجمهـور رئـیس لخـوا ورکول کیږي.

(۷) په دې ماده کې د درج شوو هڅوونو مـالي وجوه داړونـده ادارو پـه کلنۍ بودجې کې دمالیې وزارت لخوا تثبیت اوتاکل کیږي.

**دقراردادي کارکوونکي مکافات**

**شپږ ویشتمه ماده:**

(۱) هغه قراردادي کارکوونکی چې دکـارنظم او انـضباط پـه بنـه توګـه په پام کې ونیسي او ورسپارل شوی دنـده، د دنـدو پـه لایحـه اودکارپـه اړوند پلان کې له درج شوو معیارونو څخه پورتـه اجـراء کـړي، داداري دمالي امکاناتو (کلنۍ بودجې) له په پام کې نیولوسره په لانـدې توګـه هڅول کیږي:

۱- نغدي مکافات.

۲- ستاینلیک.

۳- تقدیرلیك.

(۲) قراردادي کارکوونکوته نقدي مکافات چې لـه اجـزاوو او ضـمیمو سـره یـې لـس ورځنـی اصـلي مـزد دی او سـتاینلیک چـې لـه اجـزاوو او ضمیموسره یې دپنځلس ورځنی اصلي مزد لرونکی دی، د اړونـد آمـر په وړاندیز او د وزیر یا لومړۍ درجې اعطاء آمرپه منظورۍ یـا راساً د نوموړو مقاماتو لخوا ورکول کیږي.

(۳) قراردادي کارکوونکی دلاندې شرایطو پـه بـشپړېدو سـره د تقـدیر لیك په اخیستلو بریالي کیږي:

۱- ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو شرایطو بشپړول.

۲- د جوړوونکو طرحو او وړاندیزونو وړاندې کول.

۳- په دنده کې دهم غږۍ اوسمون تأمینول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- دهغو لاروچارو په کارول چې د محصولاتو او خدمتونو دتمامې شوې بیې دټیټېدو باعث ګرځي.

(۴) قراردادي کارکوونکو ته تقدیر لیك چې، له اجزاوو او ضمیمو سره یې دشل ورځنی اصلي مزد لرونکی دی، د اړوندآمر په وړاندیز او دوزیر یا لومړۍ درجې اعطاء آمر یا راساً د نوموړو مقاماتو لخواورکول کېږي.

(۵) په دې ماده کې ددرج شووهڅونو مالي وجوه داړونده ادارو په کلنۍ بودجه کې دمالیې وزارت لخوا تثبیت اوتاکل کیږي.

## دمکافاتودرجول

### اووه ویشتمه ماده:

په دې قانون کې درج شوي مکافات دمامور او قراردادي کارکوونکي دسوانحو په دفترکې درجېږي.

## شکایت

### اته ویشتمه ماده:

(۱) دملکي خدمتونو په ادارو کې د مقررۍ داوطلب، مامور او قرار دادي کارکوونکی په لاندې مواردو کې د شکایت حق لري :

۱- له معقولو دلایلو پرته د غوښتنلیک له منلو څخه ډډه کول.

۲- دملکي خدمتونو دټاکنو دبورد، دټاکنو دکمیټو او د وزارتونو او دولتي خپلواکو ادارو دبشري منابعو دادارو لخوا تـوپیري اوغیر عادلانه چلند.

۳- دغیرمؤجهو تأدیبي مؤیدو تجویز.

۴- دآمرینو غیرقانوني لاربنووني او امرونه.

۵- شخصي سوانحو ته دمامور اوقراردادي کارکوونکي له لاس رسۍ څخه مخنیوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- دکارپـه ځـای کـې دآمـراو همکـارانو لخـوا غیرعادلانـه اوتـوپیري چلند.
۷- نورهغه موارد چې قانون هغه سرغړونې ګڼلي دي.
(۲) ددې مـادې دلـومړۍ فقـرې پـه (۱ او۲) اجـزاوو کـې درج شـوي شکایتونه، دملکي‌خدمتونودشکایتونو د څېړنې دبـورد پـه واسطه او ددې مادې د(۱) فقرې د(۳څخه تـر۷) اجزاوو کې درج شوې شکایتونه، د اړونده اداري د شخړو دحل د کمېسیون پـه واسطه ترڅېړنې لاندې نیول کېږي.
(۳) که چېرې یوله اړخونو څخه د ملکي خدمتونودشکایتونو دڅېړنې د بـورد یـاد اداري دشخړودحل دکمېسیون پرتـصمیم بانـدې قناعـت ونلري، کولی شي محکمې ته مراجعه وکړي.
(۴) په دې ماده کې درج شوو شکایتونو ته درسیدګې ډول د ځانګړې کړنلارې مطابق تنظیمېږي.

## تقاعد

**نهه ویشتمه ماده:**

(۱) ماموراوقراردادي کارکوونکي حق لـري دکارپـه قـانون کـې د درج شوو حکمونو مطابق، خپل تقاعد وغواړي.
(۲) دمامور اوقراردادي کارکوونکي دتقاعد ،د تقاعد د رفع،استعفاء او دخـدمت دتمدیـد منظوري ، ددې قـانون پـه لـسمه مـاده کـې ددرج شوومقاماتو لخوا صورت مومي.
(۳) دماموراوقراردادي کارکوونکي دتقاعد دحقوقو تاکل اودورکړې ډول یې، داړوند تقنیني سند مطابق ، تنظیمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم فصل
## تأدیب

### تأدیبي موارد
**دیرشمه ماده:**

(۱) مامور اوقراردادي کار کوونکي دکار دقانون په (۹۵څخه تر ۱۰۱) مادوکې د درج شویو حکمونو له په پام کې نیولوسره په لاندې مواردو کې لومړی په توصیې سره ، دوه یم ځل په اخطاراو دریم ځل ترپنځو ورځو پورې په کسرمزد اوڅلورم ځل ورته دندې ته په تبدیلۍ سره تأدیبېږي:

۱- پردندې باندې نه پابندي.

۲- له مراجعینو سره نا وړه چال چلند.

۳- دقانوني اوامرو په اجراء او سپارل شوې دنده کې نه دقت.

۴- ددندې له لایحې څخه سرغړونه.

۵- د دندو او قانوني اوامرو په اجراء کې تعلل او ځنډ.

۶- ددفتراو دکارد لوازمو په ساتنه اوپاکۍ (نظافت) کې پام نه کول.

۷- دکار د انضباط په پام کې نه نیول.

۸- له دندې څخه دتېښتې په مقصد پلمه لټول.

۹- د ملکي خدمتونو د مامورینو د سلوک د ډول په مقرره کې نور ورته درج شوی موارد.

(۲) توصیه او اخطار بالترتیب د کلنیو اجراآتو د ارزونې د فورمې د ارزوونکو لومړۍ او دوه یمې درجې آمرینو واک او کسرمزد د وزیر یا لومړۍ درجې اعطاء آمر واک او د مامور دتبدیلۍ واک د دې قانون په لسمه ماده کې د درج شوو مقاماتو واک دی.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي تأدیب د اجراډول د ځانګړې کړنلارې مطابق تنظیمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږم فصل
## متفرقه حکمونه

**دسوانحو دفتر**
**یو دېرشمه ماده:**
نوی مقرر شوی ماموراو قراردادي کارکوونکي ته د سوانحو دفتر ترتیبېږي چې شکل او محتوي یې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو دخپلواک کمېسیون لخوا د عدلیې وزارت په همکارۍ برابر او دوزیرانو شوري لخوا تصویبېږي.

**د قانون دحکمونو تطبیق**
**دوه دېرشمه ماده:**
د دي قانون دحکمونو دښه تطبیق په منظور وزارتونه او دولتي اداري مکلفي دي د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له خپلواک کمېسیون سره په سلا کي لازم تدبیرونه ونیسي.

**داداري اصلاحاتو اوملکي خدمتونو دخپلواک کمېسیون دندي**
**دري دېرشمه ماده:**
(۱) د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون کولی شي، ددي قانون دښه تطبیق په منظور لازمي مقرري ترتیب او له پړاوونو څخه ئي تېري کړي.
(۲) د اداري اصلاحاتو اوملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون، ددي قانون له تطبیق او دحکمونو له په پام کي نیولو څخه دملکي خدمتونو په ادارو کي څارنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دشرایطواومعیارونو تأییدول**

**څلوردېرشمه ماده:**

ددې قانون په درج شوو بستونوکې داستخداملو لپاره شرایط او معیارونه دهماغه بست د دندو دلایحو پربنسټ د اړونده ادارې لخوا تشخیص او برابر او دملکي خدمتونو او اداري اصلاحاتو دخپلواك کمېسیون لخوا تأییدیږي.
*

**انفاذ**

**پنځه دېرشمه ماده:**

دغه قانون دتوشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي، په نافذېدو سره یې د هـ.ش ۲۰/ ۶ /۱۳۸۴ نېټې په (۸۶۱) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي دملکي خدمتونو دقانون دریېمه اوڅلورمه ماده او په اووم فصل کې درج شوي حکمونه او د هـ.ش ۳۰/ ۵/ ۱۳۸۲ نېټې په (۸۱۰) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي په وزارتونو او ملکي ادارو کې د ابتدایي اصلاحاتو او بیا جوړونې په هکله د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت د رئیس د هـ.ش ۱۳۸۲/۴/۲۱ نېټې (۳۳) ګڼه فرمان او نور مغایر حکمونه یې لغو ګڼل کېږي.

---

* نوې متن د پنځه دېرشمې مادې په توګه ایزاد او پنځه دیرشمه ماده په اووه دیرشمې مادې تصحیح شوې ده، د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

* نوی متن د شپږ دېرشمې مادې په توګه ایزاد شوی دی، د تعدیلاتو برخې ته دې مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ضمیمه شماره (۱) قانون کارکنان خدمات ملکی

| بست | قدم | مجموع معاش |
|---|---|---|
| اول | ۵ | ۳۲۵۰۰ |
| | ۴ | ۳۱۱۰۰ |
| | ۳ | ۲۹۸۰۰ |
| | ۲ | ۲۸۵۰۰ |
| | ۱ | ۲۷۲۰۰ |
| دوم | ۵ | ۲۲۴۰۰ |
| | ۴ | ۲۱۴۰۰ |
| | ۳ | ۲۰۴۰۰ |
| | ۲ | ۱۹۴۰۰ |
| | ۱ | ۱۸۴۰۰ |
| سوم | ۵ | ۱۶۰۰۰ |
| | ۴ | ۱۵۲۵۰ |
| | ۳ | ۱۴۵۰۰ |
| | ۲ | ۱۳۷۵۰ |
| | ۱ | ۱۳۰۰۰ |
| چهارم | ۵ | ۱۱۹۰۰ |
| | ۴ | ۱۱۴۰۰ |
| | ۳ | ۱۰۹۰۰ |
| | ۲ | ۱۰۴۰۰ |
| | ۱ | ۹۹۰۰ |
| پنجم | ۵ | ۹۲۰۰ |
| | ۴ | ۸۹۰۰ |
| | ۳ | ۸۶۰۰ |
| | ۲ | ۸۳۰۰ |
| | ۱ | ۸۰۰۰ |
| ششم | ۵ | ۷۵۰۰ |
| | ۴ | ۷۲۵۰ |
| | ۳ | ۷۰۰۰ |
| | ۲ | ۶۷۵۰ |
| | ۱ | ۶۵۰۰ |
| هفتم | ۵ | ۶۲۰۰ |
| | ۴ | ۶۰۵۰ |
| | ۳ | ۵۹۰۰ |
| | ۲ | ۵۷۵۰ |
| | ۱ | ۵۶۰۰ |
| هشتم | ۵ | ۵۴۰۰ |
| | ۴ | ۵۳۰۰ |
| | ۳ | ۵۲۰۰ |
| | ۲ | ۵۱۰۰ |
| | ۱ | ۵۰۰۰ |

نوت:

۱- امتیازات اقلمی و منطقوی بعد از احصائیه دقیق و مطابق توان مالی در سند بودجه هرسال در نظر گرفته می شود.

۲- اضافه کاری (۱۵) فیصد طبق حکم مندرج قانون کار در نظر گرفته می شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تعدیلات

ګڼه رسمي جریده کی خپورشوی (۹۵۱)

نېټه ۱۳۸۸/۴/۱۶هـ . ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دافغانستان داسلامي جمهوريت دوزيرانو د شوري**
**د ۱۳۸۷/۴/۱۰ نېټې (16) مصوبې د توشېح په هکله د افغانستان**
**د اسلامي جمهوريت درئيس تقنيني**
**فرمان**

**ګڼه : (۴۲)**
**نېټه : ۱۳۸۷/۴/۱۵**

**لومړۍ ماده :**
په (۶) مادوکې دملکي خدمتونو د قانون په ځينو موادوکې د تعديل، حذف او ايزاد په هکله دوزيرانو شوري د ۱۳۸۷/۴/۱۰ نېټې (۱۶) ګڼه مصوبه چې دافغانستان د اسلامي جمهوريت د ۱۳۸۷/۳/۲۶ نېټې (۳۲) ګڼې فرمان پربنسټ توشېح شوېده ، منظوروم .

**دوه يمه ماده :**
دافغانستان داسلامي جمهوريت دعدليې وزير او په پارلماني چاروکې د دولت وزير مؤظف دي، دغه فرمان دملي شوري دلومړۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځومودې په ترڅ کې هغې شوري ته وړاندې کړي.

**درېيمه ماده :**
دغه فرمان دتوشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي.

**حامد کرزی**
**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دملکي خدمتونو دکارکوونکو د قانون دځینومواد ود تعدیل ، حذف او ایزاد په هکله ، د افغانستان داسلامي جمهوریت دوزیرانو شوري مصوبه

**گڼه :(۱۶)**
**نېټه : ۱۳۸۷/۴/۱۰**

**لومړۍ ماده :**
دڅلورمې مادې وروستی پاراګراف، داوومې مادې (۲ او۳) فقره، دلسمې مادې (۲) فقرۀ، د څوارلسمې مادې (۲) فقره او شپاړسمې مادې د (۳) فقرې (۲) جزء دې په لاندې توګه تعدیل شي:
۱- دڅلورمې مادې وروستی پاراګراف:
دوزارتونو او خپلواکوعمومي ریاستونونظامي منسوبین او د لوړو زده کړو د مؤسسو او د افغانستان د اسلامي جمهوریت دعلومو داکاډمۍ علمي کادر لدې حکم څخه مستثنی دي.
۲- داوومې مادې (۲ او۳) فقره:
(۲) دقانون جوړونې دچارو اوعلمي-حقوقي څېړنودانستیتوت دعلمي کادرغړي او د لویې څارنوالۍ او پوهنې وزارت مسلکي غړي،ددې مادې د (۱) فقرې په (۱، ۲، ۳او۵) جزءکې پردرج شوو شرایطوبرسېره داړوندو تقنیني سندونو تابع هم دي.
(۳) هغه مامورین چې له دوولسم ټولګي څخه دټیټو زده کړو لرونکي دي او ددې قانون له انفاذ د مخه یې په وزارتونو او اداروکې دمامور په صفت مقرر شویدي ،داداري اصلاحاتو دبرنامې د تطبیق په ترڅ کې، په هغه صورت کې چې ددې قانون په اتمه ماده کې ددرج شوو شپږمو ،پنځمو او څلورمو بستونو نورمعیارونه بشپړ کړي ،کولی شي دزده کړې ددرجې دنه په پام کې نیولوسره، نوموړي بستونه دسیالۍ پربنسټ ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- دلسمې مادې (۲) فقره :
د مامور او قراردادي کارکوونکي په استخدام کې دجنسيت ، قوميت، دين، اوجسماني معلوليت پربنسټ هېڅ ډول توپير (تبعيض)، مجاز ندی.
۴- دڅوارلسمې مادې (۲) فقره :
که چېرې مامور يا قراردادي کارکوونکی دآمرامر، دقانون يا مقرراتو خلاف تشخيص کړي ،په هغه صورت کې چې آمر له خبرتيا وروسته، دخپل امر په اجراء کتباًتاکيدو کړي، دهغه د اجراء پايلې، ماموريا قراردادي کارکوونکي ته مخامخ ندي، مسئوليت يې دآمر په غاړه دی.
۵- دشپاړلسمې مادې د(۳) فقرې (۲) جزء:
۲- ديوه کال مودې لپاره دقدم له ارتقاء پرته، په پخواني بست کې دهغه دکاردوام،په هغه صورت کې چې ددوه يم کال د اجراآتو دارزونې په پايله کې، ټاکلي معيارونه پوره نکړي، بست يې دکمبود بست په توګه اعلان ته اېښودل کېږي.

**دوه يمه ماده :**
دملکي خدمتونو دکارکوونکو دقانون داتمې مادې د(۴) فقرې (۱) جز دې حذف او د نومورې فقرې (۲،۳،۴ او۵) جزدی، بالترتيب په (۱، 22، ۳او۴) جزء تصحيح شي.

**درېيمه ماده :**
دملکي خدمتونو دکارکوونکو د قانون د نهمې مادې (۲) فقره دې حذف شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورمه ماده :**

لاندې متن دې دملکي خدمتونو د کارکوونکو دقانون د اوومې مادې د(۴) فقرې په توګه ایزاد او دنومورې مادې (۴ او۵) فقره دې، بالترتیب په (۵ او ۶) فقره تصحیح شي :

(۴)هغه مامورین چې دلیسانس له درجې څخه ټیټې زده کړې لري او ددې قانون لـه انفاذ د مخه په وزارتونو او دولتي اداروکې د ازادې سیالۍ لـه لارې مقرر شویدي، په هغه صورت کې چې بستونه یې ددې قانون په اتمه ماده کې ددرج شوو بستونو له وظیفوي معیارونو سره مطابقت ولري، د زده کړه ییزې درجې لـه په پام کې نیولو پرته نومورې بستونه ترلاسه کوي.

**پنځمه ماده :**

لاندې متن دې دملکي خدمتونود کارکوونکو دقانون دپنځه دیرشمې مادې په توګه ایزاداو پنځه دیرشمه ماده دې په شپږدیرشمه ماده تصحیح شي.

(۱) دتخصصي اومسلکي دندو دښې اجراء او دکادرونودجذب او ساتنې په منظور، یوشمیر مامورینوته دمالي شونتیاوو له په پام کې نیولو سره، اضافي استثنایي امتیاز ټاکل کیدی شي.

(۲) ددې مادې په (۱)فقره کې درج شوی امتیازددې قانون په (۱) ګڼه ضمیمه کې پردرج شوي مزد برسیره دی چې اندازه یې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونود خپلواك کمیسیون لخوا ټاکل کیږي.

**شپږمه ماده :**

دغه مصوبه دتوشیح له نیټې څخه نافذه او په رسمي جریده کې دې خپره شي.

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تعدیلات

ګڼه رسمي جریده کي خپورشوی (۹۹۲)

نېټه ۱۳۸۸/۵/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون دځينو موادو د تعديل، حذف او ايزاد په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

**گڼه:** (۹۸)
**نېټه:** ۱۳۸۸/۵/۱۲

**لومړۍ ماده:**
د افغانستان داساسي قانون دڅلور شپېتمې مادې په (۱۶) فقره کې د درج شوي حکم پربنسټ، د ۱۳۸۷/۴/۱۶ نېټې په (۹۵۱) گڼه رسمي جريدې کې خپور شوی، د ملکي خدمتونو دقانون په ځينوموادو کې تعديل، حذف اوايزاد چې د ملي شوري د ولسي جرگې د ۱۳۸۸/۳/۱۳ نېټې د(۱۴۱) گڼې مصوبې اود مشرانو جرگې د ۱۳۸۸/۳/۱۷ نېټې د(۱۲۵) مصوبې پر بنسټ تصويب شوي، توشيح کوم.

**دوه يمه ماده:**
دغه فرمان د توشيح له نېټې څخه نافذ او د دې فرمان په لومړۍ مادې کې درج د ملي شوري د مجلسينو له مصوبو او د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د ځينو موادو د تعديل، حذف او ايزاد سره يو ځای دې په رسمي جريدې کې خپورشي.

**حامد کرزی**
**دافغانستان داسلامي جمهوريت رئيس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دافغانستان د اسلامي جمهوريت ملي**

**شوري**

**ولسي جرګه**

**مصوبه**

**د۱۳۸۷/۴/۱۶رسمي جريدې په (۹۵۱)ګڼه کې خپورشوی نېټې د دملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون د ځينو موادو د تعديل، حذف او ايزاد په هکله**

**ګڼه: (۱۴۱)**
**نېټه: ۱۳۸۸/۳/۱۳**

دافغانستان داساسي قانون داووه نوي يمې مادې له حکم سره سم، ولسي جرګې د۱۳۸۸/۳/۱۳نېټې دچهارشنبې ورځې په عمومي غونډه کې دملکي خدمتونو دکارکوونکو د قانون د ځينو موادو تعديل، حذف او ايزاد تصويب کړ.

**په درنښت**
**څارنوال عبدالستار خواصي**
**د ولسي جرګې منشي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د افغانستان اسلامي جمهوريت ملي شوري**

**مشرانو جرګه**

**دارالانشاء**

**د مشرانو جرګې مصوبه**

**د۱۳۸۷/۴/۱۶نېټې درسمي جريدې په (۹۵۱)ګـڼه کې خپـورشوی دملکي خدمتونو دکارکـوونکو دقانون دځيـنو مـوادو دتعديل، حذف اوايزاد په هکله**

**ګڼه: (۱۲۵)**
**نېټه:۱۳۸۸/۳/۱۷**

د افغانستان د اساسي قانون د اووه نوي يمې مادې دحکم سره سم، د مشرانوجرګې د ۱۳۸۸/۳/۱۷ نېټې پـه عـمومي غونـډه کې د ملکي خدمتونو دکارکوونکو د قانون د ځينو مـوادو تعـديل، حذف او ايزاد تصويب شو.

**په درنښت**
**سيد حامد ګيلانی**
**د مشرانو جرګې لومړی نايب**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دملکي خدمتونو دکارکوونکو د قانون دځينومواد و تعديل، حذف او ايزاد

**لومړۍ ماده :**

د ۱۳۸۷ هـ . ش کـا ل دسـرطان د (۱۶) نېټـې پـه (۹۵۱)ګڼـه رسـمي جريـد ه کـې خپـور شـوی د ملکـي خدمتـونو دکـارکوونکو د قـانون دڅلورمې مادې وروستی پـاراګراف، د اوومـې مـادې (۲ او۳) فقـره، د لسمې مادې (۲) فقرۀ، دڅوارلسمې مادې (۲) فقره اود شپاړسمې مادې د (۳) فقرې (۲) جزء دې په لاندې توګه تعديل شي:

۱-دڅلورمې مادې وروستی پاراګراف:

دوزارتونـو او خپلواکوعمـومي رياسـتونونظامي منسـوبين او د لـوړو زده کـړو د مؤسـسو او د افغانـستان د اسـلامي جمهوريـت دعلومـو داکاډمۍ علمي کادر لدې حکم څخه مستثنی دي.

۲- داوومې مادې (۲ او۳) فقره:

(۲) دقـانون جـوړونې اوعلمـي – حقـوقي څېړنودچـارو دانـستيتوت دعلمـي کـادرغړي او د لـوي څـارنوالۍ او پـوهنې وزارت مـسلکي غړي، ددې مادې د (۱) فقرې په (۱، ۲، ۳ او۵) اجزاووکې پردرج شوو شرايطو برسېره داړوند و تقنيني سندونو تابع هم دي.

(۳) هغه مامورين چې له دوولسم ټولګي څخه دټيټو زده کړو لرونکي دي او ددې قانون له انفاذ د مخه يې په وزارتونو او اداروکې دمـامور په صفت مقرر شويدي ،دادارې اصلاحاتو دبرنـامې د تطبيـق پـه تـرڅ کې ،په هغه صورت کې چې ددې قـانون پـه اتمـه مـاده کـې ددرج شـوو شـپږمو ،پنځمـو او څلورمـو بـستونو نورمعيارونـه بـشپړ کـړي، کـولی شـي دزده کـړې ددرجـې دنـه پـه پـام کـې نيـولوسـره، نومـوړي بـستونه دسيالۍ پربنسټ ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- دلسمې مادې (۲) فقره :
د مـامور او قـراردادي کـارکوونکي پـه اسـتخدام کـې دجنـسيت، قوميت، دين اوجسماني معلوليت پربنسټ هېڅ ډول توپير (تبعيض)، جوازنلري.

۴- دڅوارلسمې مادې (۲) فقره :
کـه چېـرې مـامور يـا قـراردادي کـارکوونکی د آمـر امـر، دقـانون يـا مقرراتو خلاف تشخيص کړي، مکلف دی له موضوع څخه په ليکلی توګه آمر خبر کړي، په هغـه صـورت کـې چـې آمـر لـه خبرتيـا وروسـته، دخپل امرپه اجراء کتباً تاکيد وکړي، د هغه د اجراء پـايلې، مـامور يـا قرار دادي کارکوونکي ته متوجه ندی، مسئوليت يې دآمر پـه غـاړه دی.

۵- دشپاړلسمې مادې د(۳) فقرې (۲) جزء:
۲- ديوه کال مودې لپاره دقدم لـه ارتقـاء پرتـه ،په پخوانې بست کې دهغه دکاردوام .
پـه هغـه صـورت کـې چـې ددوه يـم کـا ل د اجراآتـو دارزونـې پـه پايلـه کې،ټاکلي معيارونـه پـوره نکـړي، بـست يـې دکمبود بـست پـه توګـه اعلان ته اېښودل کېږي.

**دوه يمه ماده :**

دملکي خدمتونو دکـارکوونکو دقـانون داتمـې مـادې د (۴) فقـرې (۱) جز دې حذف او د نومورې فقرې (۲،۳،۴ او۵) اجزادې، بالترتيـب پـه (۱، ۲، ۳ او۴) اجزاوو تصحيح شي.

**درېيمه ماده :**

دملکي خدمتونو دکـارکوونکو د قـانون د نهمـې مـادې (۲) فقـره دې حذف شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورمه ماده :**

لاندې متن دې دملکي خدمتونو د کارکوونکو دقانون د اوومې مادې د(۴) فقرې په توګه ایزاد او دنومړې مادې (۴ او۵) فقره دې، بالترتیب په (۵ او ۶) فقرو تصحیح شي :

(۴) هغه مامورین چې دلسانس له درجې څخه ټیټې زده کړې لري او ددې قانون له انفاذ د مخه په وزارتونو او دولتي اداروکې د آزادې سیالۍ له لارې مقرر شویدي، په هغه صورت کې چې بستونه یې ددې قانون په اتمه ماده کې ددرج شوو بستونو له وظیفوي معیارونو سره مطابقت ولري، دزده کړه ییزې درجې له په پام کې نیولو پرته نومړي بستونه ترلاسه کوي.

**پنځمه ماده :**

لاندې متن دې دملکي خدمتونود کارکوونکو دقانون دپنځه دېرشمې مادې په توګه ایزاداو پنځه دېرشمه ماده دې په اووه دېرشمه ماده تصحیح شي:

**پنځه دېرشمه ماده:**

(۱) دتخصصي اومسلکي دندو دښې ترسره کیدواو د لوړمدیریتی مهارتونو لرونکي کادرونو د ساتلو په موخه د دولت د مالي امکاناتو له په پام کې نیولوسره ددې قانون په (۴) ګڼه ضمیمه کې له درج شویو حدودو او معیارونو سره سم دیوشمیر مامورینولـه پاره استثنائی مادي امتیاز ټاکل کیدای شي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی امتیازددې قانون په (۱) ګڼه ضمیمه کې له درج شوي مزد یا مؤقت اضافي معاش څخه علاوه دی چې اندازه یې د اړوند طرزالعمل له مخې دملکي خدمتونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري اصلاحاتو خپلواك کمېسيون او اړوندو ادارو د استازو لخوا تاکل کېږي.

**شپږمه ماده:**

لاندي متن دي دملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون دشپږد پرشمې مادې په توگه ايزاد شي.

**شپږ د پرشمه ماده:**

په ملي شوري کې دندی ترسره کول، د کاري سابقي يوه برخه شميرل کيږي.

**اوومه ماده:**

دغه تعديل، حذف او ايزاد د توشيح له نېټې څخه نافذ اوپه رسمي جريده کې دې خپور شي اود هغه په نافذېدو سره د ۱۳۸۷هـ.ش کال دسرطان د (۱۶) نېټې په (۹۵۱)گڼه رسمی جريده کې خپرې شوې د افغانستان اسلامي جمهوريت دوزيرانو شوري د ۱۳۸۷/۴/۱۰ نېټې (۱۶)گڼې مصوبې د توشيح په هکله دافغانستان اسلامي جمهوريت درئيس د ۱۳۸۷/۴/۱۵نېټې (۴۲) گڼه تقنيني فرمان لغوگڼل کېږي.

## د ملکی خدمتونو د کارکوونکو قانون د (۴) گنه ضمیمه
## د استثنایی مادي امتیاز معیارونه او حدود

| بست / معیار | ۱ | | | ۲ | | | ۳ | | | | ۴ | | | | | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تحصیل | داکتر | ماستر | لیسانس | داکتر | ماستر | لیسانس | داکتر | ماستر | لیسانس | فوق بکلوریا | داکتر | ماستر | لیسانس | فوق بکلوریا | بکلوریا | |
| حد اقل کاری تجربه | ۳ | ۴ | ۵ | ۲ | ۳ | ۴ | ۱ | ۱ | ۲ | ۳ | ۱ | ۱ | ۱ | ۲ | ۲ | |
| مدیریتی مهارتونه | اداره اود چارو مدیریت | | | | | | | | | | | | | | | |
| د هیواد پر رسمي ژبو باندې پوره تسلط | دری یا پښتو | | | | | | | | | | | | | | | |
| له بهرنیو ژبو سره آشنایی (لږترلږه یوه ژبه) | انگلیسی یا جرمنی یا فرانسوی یا روسی یا عربی | | | | | | | | | | | | | | | |
| کمپیوټر او انټرنټ | د آفیس او انټرنټ پروګرامونه | | | | | | | | | | | | | | | |
| د استثنایی امتیاز حدود (د امریکایی ډالرو معادل) | ۱۴۰۰ ۱۵۰۰ | ۱۳۰۰ ۱۴۰۰ | ۱۲۰۰ ۱۳۰۰ | ۱۱۰۰ ۱۲۰۰ | ۱۰۰۰ ۱۱۰۰ | ۹۰۰ ۱۰۰۰ | ۸۵۰ ۹۰۰ | ۸۰۰ ۸۵۰ | ۷۵۰ ۸۰۰ | ٦۰۰ ۷۵۰ | ۵۵۰ ٦۰۰ | ۵۰۰ ۵۵۰ | ۴۵۰ ۵۰۰ | ۴۰۰ ۴۵۰ | ۴۰۰ ۳۰۰ | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادښت: په هغو ادارو کې چې لاتر اوسه فوق او مافوق بستونه وجود لري، ددغو بستونو د مستحقینو لپاره د لومړي بست استثنایي

مادي امتیاز حدود او د پنځم او شپږم بستونو د مسلکي مستحقینو لپاره د څلورم بست استثنایي مادي امتیازات ټاکل کېږي.

د بست له ټول امتیاز څخه د هر معیار فیصدي

۱- د تحصیل درجه: ۳۰%

۲- کاري تجربه: ۲۰%

۳- مدیریتی مهارتونه: ۲۰%

۴- دري یا پښتو ژبې: ۱۰%

۵- بهرنی ژبې: انگلیسی،فرانسوی، جرمنی، روسی و عربی ۱۰%

۶ - دکمپیوټر او انټرنټ پروګرامونه: ۱۰%

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قانون کارکنان خدمات ملکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فرمان
